محمد یوسف صابرساپی ۲۰۱۹/۰۳/۱۳

# د استعمار تحمیلي کرښه

(څه موده پخوا، په فیسبوک کې د ښاغلي عبدالعزیز معارج له خوا،د کریستینا په نوم د یوې آلمانی پروفیسورې یو نظر-پوښتنه خپره شوه،چې ګڼي: په خپله پښتنانه د ډیورند د کرښې ساتنه کوي او آن ویلی شي،چې هغوی په خپله منځته راوړې ده،که پښتانه د ډیورند کرښه ونه غواړي،څوک یې یو کال هم بیل نه شي ساتلی.) «ساپی»

** * **

د آلمانی پروفیسورې "کریستینا" دا نظر ـ پوښتنه، چې که پښتانه خپله وغواړي څوک یې یو کال هم جلا نه شي ساتلی، که د خواخوږي احساس پر بنسټ وګڼو، تر یوې اندازې پورې به د منلو وړ وي، اما د هغې په پوښتنه کې د خواخوږی او درد څه ځرک نه احساس کیږي. پوښتنه په ظاهر کې درسته او منطقي ښکاري، اما د ډیورند د مسلې د نننی مضمون او ماهیت په بشپړه توګه ددې په خلاف دی او دا چې هغه ثبوت لري او مطمئنه ده، چې د ډیورنډ کرښه په خپله پښتنو ساتلې ده او حتی پښتنو په خپله منځته راوړې ده، په بشپړه توګه د واقعیت څخه لیرې ده. داسې «ثبوت» په مطمئنه توګه وجود نه لري او نه یې هم سالم عقل منلی شي. د کرښې له نوم څخه، د لمر په شان روښانه ښکاري، چې دا بیلتون پښتنو نه، بلکې انګریزانو - ډیورند منځته راوړی دی، روند هم که یې لیدلی ونه شي، اما احساسولی یې شي، پدې شرط که د احساس کوم بل عنصر یې سالم وي.

ددې ثبوت چې دا کرښه هیڅکله هم پښتنو نده منلې، خورا روښانه او آسانه دی. په افغانستان کې ان ګوډاګي حکومتونو او په لره پښتونخوا کې د ممتاز قشر سیاسي ډلو هم، د ولس له بیرې، د هغې د منلو جر ئت ندی کړی.

ښایي سوال داسې طرحه شي: که نن پنجابي پوځ چې تمویل، تجهیزاوملاتړ یې د غرب له خوا کیږي، د لعنتي ډیورنډ کرښې له سر لیرې شي، د تورخم او سپین بولدک دروازې به ځای په ځای پاتې شي؟ هغه اغزن سیم به غزیدلی پاتې شي؟ یا د بیلتون کوم اثر به ښکاره پاتې شي؟

دا رښتیا ده چې یو شمیر په نامه پښتانه، دقیقاً دوې ډلې «پښتانه» د پښتنو په بیلتون کې ونده لري:

■ ۱ـ یوه اجیره ډله («ګل خانان»)، چې د خپل اصل اونصب، کټې او تاوان څخه هیڅ خبر نه دي. د استعمار له وخته، د بریتانوي - هند په پوځ کې یو شمیر پښتانه وو، د پاکستان په پوځ کې هم پښتانه شته دي، سرحدي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ملیشي هم پښتانه دي، اما دا ټول اجیران وو او نن هم اجیران دي، دقیقاً د هغي ډرامي د ګل خان څوکي دار په څير. له همدي کبله یي په پښتنو کي د ګل خانانو لقب ترلاسه کړی دی.

دادی اولس کاله د ناټو پوځونو د حضورپه دوره کي (لکه لس کاله په افغانستان کي د شوروي لښکرو د موجودیت په څير) د افغانستان ټوله دولتي دستګاه اجیره ده، دا خو پدې معنا نده چي افغانانو خپله خاوره په خپله د خارجیانو په قبضه کي ساتلي ده.

- ۲- د یو ممتاز قشر (Elite) سیاسي او مذهبي مشران، چي په پښتنو کډیږي. تریخ واقعیت دی، چي د ډیورنډ په کرښه د آغزن سیم د کښولو اجاره دارهم نامداره «پښتون» دي.

په نني افغانستان کي د شمالي ټلوالي سیاسي مشران، چي د باندینیو تیریو په دوران کي یي بی ساري امتیازونه ترلاسه کړي، د ټولو پښتنو په یووالي خوښ نه دي، ویریږي چي خپل پوستونه به له لاسه ورکړي. هغوی خو هسي پښتانه نه دي، ګیله هم تري نشته، اما واقعیت دادی چي د پښتنو په یووالي او نیکمرغی کي د افغانستان د نورو قومي اقلیتونو عام ولس هم خوشبختي ترلاسه کوي.

## پښتانه استعماري جبر سره بیل کړي دي او په زور او نیرنګ سره جلا ساتل کیږي:

- ۱- د ډیورنډ کرښه پر پښتنو باندې په زور تحمیل شوې ده. د پروفیسوری کریستینا دلیل او ثبوت همدا دی، چي «که تاسي و نه غواړی، بل څوک تاسي یو کال هم نشي جلا کولی!»

دلیل خو یي په ځرګنده توګه د تاریخي حقایقو سره سر نه خوري. درسته خبره داسي ده: که د بیلتون باندنی علت له منځه لاړ شي، په یو کال کي به هر ډول جلا والی ورسره له منځه لاړ شي. دباندني لامل له کبله د واحدو ملتونو د بیلتون مثالونه، په ژوندي تاریخ کي د لمر په څیر روښانه دي، د هغو له پاره چي خپله بینایي ولري:

- ـ ویتنام د ۱۹۵۴م کال څخه تر ۱۹۷۵م کال پوري د خارجي عامل له کبله جلا ؤ، کله چي باندنی لامل له منځه لاړ،په یو کال کي سره یوشول؛
- ـ کوریا هم همداسي د ۱۹۴۵م کال څخه راپدې خوا ترننه پوري،د باندني عامل له کبله جلا ده؛
- ـ ایا دا به تاریخي واقعیت وي که ووایو، چي برلین دیوال په خپله المانیانو جوړ کړی ؤ او هغوی په خپله یي ساتنه کوله؟

ایا ویتنامیانو، کوریایانو، المانیانو...په خپله غوښتي وو،چي سره بیل او ویشل شوي وي؟

د استعمار کلاسیک فورمول همدا ؤ او تر ننه دی: بیل یي کړه، ایل یي کړه ! او تر هغي چي انسان د استعمار غیر انساني مرحلي څخه نه وي تیر شوی، همدغه یي فورمول او وسیله پاتي کیږي. پښتانه د همدغه استعماري فورمول پر بنسټ سره جلا شوي دي.

د کریستینا دلیل دي ته ورته دی، چي وواېو: د لومړی نړیوالي جګړي په بایلود، آلمانیانو په خپله خوښه د «وارسایل ترون» ومانه،هغه ترون چي آلمان ورسره د خپلي خاوري ۷۰۰۰۰ کیلومتره مربع له لاسه ورکړه او د

جنګ ۱۳۲میلیارده طلایي مارک تاوان یې وزغمه؛ واقعیت څه دی، دا ټرون چې په خپل نوبت سره د دویمې نړیوالې جګړې محرک وګرځید، آلمانیانو په خپله ومانه او که پرې تحمیل شو؟

اما د آلماني دولتونو په خلاف، چې د نړیوالو جګړو د پیلولو په جرم کې یې ونډه لرله، افغانانو هیڅکله هم په برتانیه تیری ندی کړی، انګریزانو د افغانانو په خاوره تجاوز کړی دی. خو کله چې افغانانو د ځان ساتنې په مسلم انساني حق سره، د ستړې امپراتورۍ غیرانساني تیری په شا تمبولی او په نابرابرو (asymmetric) جګړو کې یې ورته ماتې ورکړې، انګریزي ښکیلاک دغه ماتې ځانته کسر شان ګڼلی، په عقدې سره یې د افغانانو په ضد، په هر ډول غیر انساني توطیو او پټو جګړو لاس پورې کړی دی. دغه تاریخي حقیقت امریکایي پروفیسور "آلفرید مککوی" داسې بیانوي:

«اروپایي استعمار زیاتره آسیایي هیوادونه په آساني سره اشغال کړل، اما د افغانستان په غرنی سیمه کې یې د وړاندې تګ توان ونه موند. سختې اراضي،... قوي جنګیالان، د اروپایي یرغلګرو په ضد د مقدس جهاد اسلامي عقیده، ددغې سیمې اشغال ناممکنه کړی ۇ.

برتانیه ...دوه پلا ... افغانستان ته ننوتل، اما دواړه ځلې یې سپکونکې ماتې وخوړلې او خورا ډیر تلفات یې وزغمل...

د بریتانوي هند په شمال لودیزو پولو کې استعماري واکمنی خورا کمزورې وه. د افغانستان له پولو د پښتني قبایلو دوامداره وژونکي یرغلونو تر فشار لاندې، برتانیه د ۱۸۴۹م کال څخه تر ۱۸۹۰م کال پورې ۴۲ ځلې یعنې نژدې هر کال یوه پلا، پدې سیمه لښکرکښې وکړې. برتانویانو په ۱۸۹۷م کال کې ۳۰ زره منظم پوځونه د پیښور سیمې ته واستول، چې د ناترسو اپریدیو سره وجنګیږي، اما کوم خاص بری یې ترلاسه نه کړ. پر پښتنو باندې د بري امکاناتو د لاسه ورکولو وروسته ، برتانویانو په جنایتکارانه جزایي اعمالو لاس پورې کړ، چې په عسکري نظام کې د «قصابۍ او تینښتې» په نامه یادیدل. پدې معنی چې پوځ د شورشیانو پر کلیو باندې یرغل وروړې، ټول ملکي اوسیدونکي یې چې په لاس ورځې وژني، قصابي کوي یې ( to butcher) او بیا په سرعت سره له دوړو بیرته ځان وباسي، تښتي(to bolt) مخکې لدې چې قبایلي جنګیالیان متقابله ضربه واردولی وشي...»

پدې توګه د پښتنو په ټټر د بیلتون کرښه په وینو لت پت، استعمارې جبر په چال او فریب، د کاغذ پرمخ، د ولس د ارادې په خلاف، په افغاني واکمنانو تحمیل کړې ده.

❖ ۲- پښتانه په زور (Hard Power) او نیرنګ (Soft Power) سره جلا ساتل کیږي.

پښتانه د انګریزي سوپر ځواک د زور او جبر سره انګریزي «جنت» ته لاړ نه شول، اما په رضا او پخلاینې سره د استعمار دوزخ ته لاړل، د انګریزي چال او فریب په نتیجه کې، د خپلې بې خبرۍ او بې وزلۍ په لومو کې بند پاتې شول.

پاکستان ته د انګریزي استعمار پیداوار په توګه، د استعمار ټول میراث ورپاتې شو. پاکستان تر خپل اسارت لاندې د پښتنو ساتلو له پاره د زاړه او نوي ښکیلاک د وسایلو، میتودونو او د تجربو غنی څخه استفاده کړې ده او کوي یې.

پاکستاني پوځ او ISI پښتانه د ترور او دهشت په زور تر خپل واک لاندې ساتلي دي. د صمد خان اڅکزي، بلور...،په سوات او وزیرستان کې په زرګونو زرګونو پښتني آزادي غوښتونکو ترور او وژنه ددې حقیقت څرګندوې دی، تر

ډېره يې په ترور او دهشت سره د پښتنو د آزادۍ غږ ټپ کړی وُ. لکه څنګه چې د هر زور اوجبر ( Hard Power) پکاروِل مقاومت زېږوي، همدغه ډول د پښتون ژغورني غورځنګ (PTM) د پاکستان دولتي ترور په مقابل کې د پښتنو مقاومت دی.

پاکستان د خپل جوړښت څخه را پدې خوا پښتانه د نېرنګ (soft power) په دوو لومو کې بند ساتلي دي:

- ۱- پښتانه يې په خپله جنتي خاوره کې داسې نهر او ناچاره کړي، چې د خپل ځان او کورنۍ ساتلو څو روپو له پاره، هم د طالبانو ليکو ته او هم د طالبانو ضد جبهې ـ احمد شاه مسعود لښکرو کې جګړو ته تللي دي.
- ۲- پښتانه يې په لوئ لاس په جهل او بې تعليمي کې ساتلي دي. همدغې بې تعليمي پر پښتنو باندې دوې ناوړې آغيزې لرلي دي:
  - ـ د يوې خوا د خپل تاريخ او اصل څخه يې بې خبره پرېښې اود ملي شعور رېښې يې ورته په ابتدايي تعليماتو کې ِغوڅې کړي دي. د لرې پښتونخوا يو پښتون له خولې: د شوروي تيري دمخه، مخکې لدې چې افغانان کوزې پښتونخوا ته راشي، موږ خبر نه وو، چې په افغانستان کې هم پښتانه شته دي.
  - ـ د بلې خوا د جهل په تورتم کې يې ورته غرضي مدرسې جوړې کړې او خرافات يې په کې ترويج کړی دی. اوس افغاني ـ پښتني روښن فکرانو د خپل يووالي د حق ترلاسه کولو له پاره متې بډ وهلي دي:
  - ـ نړيوالو مراجعو څخه د خپلو حقوقو غوښتنه کوي، اما متل دی، وايي: چې دعوه دې قاضي سره شي، نو عرض به چاته وکړې! د پښتنو په خاوره د جهاني عدل قاضيانو تجاوز کړی دی، ځکه يې غږ څوک نه اوري.
  - ـ د پښتون ژغورني په غورځنګ کې او د رسنيو له لارې د خپل يووالي له پاره په سوله ييزه مبارزه بوخت دي.
  - ـ ښايي په نژدې وختونو کې د لرو ـ برو افغانانو د پيوستون غورځنګ، د وخت او حالاتو په تقاضا د وسله والې مبارزې مرحلې ته هم ورسيږي.

د مبارزې د ټولو ډولونو څخه استفاده د برې شرط دی.

د پښتنو د يووالي هڅه ترټولوښه د پښتو په شعر او شاعرۍ کې انعکاس مومي. که کريستينا د پښتو شعر سره اشنايي لرلی او پرې پوهيدلی، که د ملنګ جان غوغا يې اوريدلای او يا يې د تراب، دانش او بی شميره نورو پښتني شاعرانو سوله ييز بغاوتونه ليدلای شوی، نو هرګز به يې داسې پوښتنه نه وای طرحه کړې، هلته به يې د پښتنو د يووالي کړيکې رسا اوريدلې وای!

تر ننه پورې لوديز د پاکستان په دولت، د خپل استعماري مخلوق په توګه د ټينګې اتکا له کبله، د پښتنود يووالی غوښتنه د خپلو ګټو مخالف ګڼاه، اما اوس اوس په سيمه کې حالات، د پښتنو د يووالي داعيه د لوديز د ګټو سره هم لوري کوي.

ښکاره ده، چې لوديزو هيوادونو ته عربي خليج د منځني ختيز د انرژي زېرمو د انتقال اساسي لار ده. پرون امريکا او ټول لوديز د عربي خليج په زر کيلومتري کې، افغانستان ته د شوروي وړاندې راتګ، لدې بيرې چې شوروي د

منځني ختیز نفتي شتمنیو ته ځان نژدې کوي، تحمل کولی ونه شو او په خپل ټول توان سره یې، د افغانانو په مټ په شا وتمبوه؛ ایا نن بیا د پاکستان ـ چین اقتصادي کاریدور د ۵۵ میلیار ډالري پروژې سره، ګوادر بندر ـ د عربي خلیج زړه ته د چین وړاندي تګ زغملی شي؟

پرون شوروي په افغانستان کي د خپل پوځي موجودیت په وخت کې، د پښتنو د ځپلو سیاست پرمخ نیولی ؤ او همدغه پښتني ضد کړنلاره، د هغوی د ماتي اساسي علت وګرځید؛ د امریکا متحده ایالتونه هم دادی اولس کاله کیږي، د پاکستان دولت پښتني ضد ستراتیژۍ سره په همغږۍ کې، همدغه تیروتنه تکراروي، له همدې کبله د خپل ستر پوځ او ستري سرمایې په ټول زور سره بریالیتوب نه شي ترلاسه کولی.

که پرون د امریکا سلف ـ برتانیه د پښتنو پر ملا د ډیورنډ چاړه کیښوده او په ملا یې مات کړل او ترننه پورې د پاکستان پوځ په تمویل او تجهیز سره، ددې کړښې ساتنه کوي، د پښتنو دښمني یې خپله کړې ده، که نن د امریکا عقل سرته راشي او هیله ده چې راشي، ځکه چې د سرمایه دار عقل خپلو ګټو پورې تړلی دی، د پښتنو بیلتون نور ونه ساتي، د کلونو دښمنی سره سره، د پښتنو زړه او دوستي ترلاسه کولای شي. د پښتنو په یووالي سره په سیمه کې یو قوت رامنځته کیږي، چې هلته د پښتنو د دوست د ګټو په خلاف څوک قدم نه شي اخیستلی. له کاشغره تر ګوادره د ستري لوبې برې د هغه چا دی، چې پښتانه یې خپل کړل.

پدې ډول، لوديزد کلونیالیزم په دور کې، د خپلو اقتصادي موخو له پاره، پر آسیایي، افریقایي، او امریکایي هیوادونو باندې لښکرکښی وکړې، ډیرې خاورې یې ونیولې، د فرهنګ او مدنیت خپرولو تر نامه لاندې یې پر ولسونو ډیر ظلمونه وکړل او واحد ملتونه یې سره جلا کړل. نن هم د استعمار ماهیت تغییر ندی کړی، سره ددې چې شکل او ځای یې بدلون موندلی دی. زیاتره لودیزوال، آن پوهان یې هم (د یو شمیر بشرپاله متفکرینو لکه آلت فرانس، امانوییل تود... پرته) دانسانیت له دریځه، هغه ټولې استعماري ناروایي ګانې نه تقبیح کوي،بلکې د لودیز په پوهې، زور-ځواکمنی باندې د ویاړ له دریځه، د خپلو مادي ګټو له موضع ورته ګوري، هغه څه چې ننني ښکیلاکګرو ته د ولسونو په لوټولو کې قوت وربخښي. همدغه زموږ د عصرانساني تراژیدي ده.

ښایي په خپلو علمي پوهنتنو کې د ښکیلاک جبري ماهیت او د مظلومو ناچارۍ له نظره ونه غورځوو.

د استعمار تحمیلي کړښه
saber_sapi_m_y_de_estemaar_tahmili_karkhay.pdf